13-Barry, Peter, Beginning theory, An introduction to literary and cultural theory, Manchester University Press, Manchester and New York, First published 1995, page 96
14-Ibid, Kabir, Stori, Dr.
15-Ibid .Page 56
16-Ibid, Page 61
17-Ibid, Kabir, Stori, Dr.
18-Copyright © 2000-2014 Dream Moods, Inc. Last time accessed this website on August 7, 2015.

# د "کوټې د اووم اکتوبر رزم " صنفي تعین

# THE 7TH OCTOBER INCIDENT OF QUETTA

Muhammad Yousaf Sahil*
Dr. Javed Iqbal†

**Abstract**:

*The authors of this papar have thoroughly and critically analysed the book of a reknowned pashtoon politician Mahmood Khan Achakzai, titles as "Da Quette Da Wowam October Razam". As the author of the said book has not fixed it into a specific literary genere hence writers have also not been agreed on its specific literary position yet.*

*The authors of this paper,keeping the discussions and arguments of the reknowned wrtier, they have specified it to a Russian fictional genre Ochurk which was first named by Ibrahim Ataee but with slight changes.Ataee called it Ochurk like fictional genre(Dastan)*

* M.Phil. Scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta
†† Assistant Prof. Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

" دکوټې د اووم اکتوبر رزم " دپښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مشر ښاغلي محمود خان اڅکزي صاحب ليکلی کتاب دی چې د"پښتون زوی" په فرضي نوم ئې په وړومبي ځل په کال ۱۹۸۵ء کښې دپښتونخوا ادبي ځانګې له خوا خور کړئ دی. د دې کتاب اردو ترجمه پروفېسر عبدالغني خان غنو د " معرکه ۷ اکتوبر" په نوم کړې ده. ذکر شوې ترجمه د ګوشه ادب کوټې له خوا په کال ۲۰۱۴ء کښې چاپ شوې ده،

د " کوټې اووم اکتوبر رزم "يو داسې کتاب دی چې ژبه ئې ادبي او تخليقي ده. ښاغلي ليکوال تر آخره پورې دغه اسلوب برقرار ساتلی دی. هم دغه وجه ده چې د دې اثر د صنفي تعين کولو په وخت دپښتو ليکونکو رائې هم مختلفې جوړې شوي دي؛ دې ته ناول هم وئيلی شوی دی، د رپورتاژ نمونه هم ګڼلې شوې ده، د اوچرک نما داستان په نوم هم ياد شوی دی او رزم نامه هم بللې شوې ده. دې نه علاوه د داستان او ډرامې صنفي خصوصيات هم په کښې لټول شوي دي. موږ په دغه مقاله کښې د دغه اثر دصنفي تعين په هکله څېړنه وړاندي کوو.

"د اووم اکتوبر رزم "د صنفي تعين نه مخکې دا هم ضروري ده چې دکتاب دليکلو اصل محرکات او موضوع ته هم اشارې وشي.لکه څنګه چې وئيلي شوي دي چې داکتاب ستر سياستدان ښاغلي محمود خان اڅکزي صاحب ليکلئ دی. نو دلته دا وئيل به هم بې ځايه نۀ وي چې دا په يوه ډېره اهمه سياسي ، سماجي او انساني مسئله ليکل شوی يو تاريخي دستاوېز دی چې د اهميت نه ئې په هيڅ توګه انکار ممکن نۀ دی. د اووم اکتوبررزم دخونړۍ پېښې په هکله دکتاب سريزه نګار ښاغلی اولس مل شيرانی خپل معلومات موږ سره داسې شريکوي.

"د پښتونخوا په تاريخ کښې د خان شهيد له شهادت څخه پسته دويمه لويه پېښه داووم اکتوبر ۱۹۸۳ءده. چې دا کتابچه د دغې پيښې يوه ډرامائي بڼه ده. اسلامي مارشل لاء بيا بيا وئيلي وو چې که اولس له مارشل لاء څخه بېزاره دی نو ولې کوڅو ته نۀ راوځي خو کله چې په تمام ملک کښې د ايم آر ډي په بلنه اولس په کوڅو کښې مظاهرې پېل کړې نو اسلامي مارشل لاءپه

دومره ناترسۍ او بې حيائۍ د دغو مظاهرو مخنيوی وکړو چې په داسې بې حيائۍ او سپين سترګۍ په خپل وخت کښې ظالم او کافر انګريز هم نۀ وو کړې.... . پښتونخوا د اووم اکتوبر دجمعې په ورځ يو پُر امنه جلوس پسې راواپستلو.....زموږ اسلامي سرکار خو په جلوس پسې داسې دشومو لېوانو غوندي ايله و. چې کله هم پوليس موقع ليدله سرې ئې کره کره په ټټرونو ويشتل؛ په نتيجه کښې زموږ څلور ملګري رمضان ، محمود ، داود او اولس يار شهيدان شول.لس سخت ټپيان شول، تر څلوېښت زيات ملګري ئې بنديان کړل او څلورويشت ئې شپاړس مياشتې په جېل کښې وساتل. په تاڼه کښې ئې ځيني ملګري سخت و وهل او بېخي ناوړه او بې غيرته سلوک ئې ورسره وکړو....... اولس نو د ناسياله سرکار دې غير انساني خوی ته به سړی څۀ نو م ورکوي چې په بنديانو ملګرو ئې دا تور هم ولګولو چې ګولۍ تاسو خپله چلولي دي. او خپل ملګري موخپله وژلي دي. دغسې نور بې درکه تورونه هم وو." (۱)

په دې کتاب کښې ښاغلي ليکوال که يو خوا خپله سياسي مفکوره پيش کړې ده نو بل خوا دغه مفکوره ئې دپښتون اولس د تحفظ او بقا دپاره ضروري او لازمي ګڼلې ده. دې لړ کښې ښاغلی اولس يار ليکي:

"د کوټې د اووم اکتوبر رزم "دنېشنل عوامي پارټۍ پښتونخوا او د هغې دغړو نظرياتي ، او سياسي پوهنه ، دسياسي وظيفو په ډسپلن ، نظم وضبط ، لګن او سرښندنه سرته رسول ، د ملګرو ترمنځ د ملګرتيا ورور ولۍ او يو په بل سر ورکول او انکساري او داسې نور د دې ګوند تاريخي توګه ثابت انقلابي ګوندي او انفرادي خويونه د وطن او اولس دپاره د يو مثالي انقلابي ګوند په لور د ابتدائي قدمونو په څېر وړاندې کوي".(۲)

**صنفي تعين**:

د" کوټې اووم اکتوبر رزم"دصنفي تعين په هکله ځينې ليکونه مخې ته راغلي دي خو د دغو ليکونو دجاج اخيستلو نه وړاندې موږ د ذکر شوي کتاب ليکونکي رائې ته رجوع

کوو. دلته داوضاحت هم ضروري دی چې د کتاب په ټائټل صفحه دکوم صنف تعین خو نۀ دی شوی. البته ښاغلي ليکوال د" يوه بې ادبي" تر عنوان لاندې ليکلي دي چې.

" مونږ دامنو چې د ادبي دنيا پوهانو ته به زمونږ داليکنه څۀ ډېره لويه بې ادبي ښکاره شي ولې چې دا نۀ ناول دی ، نۀ افسانه ، نۀ رپورتاژ او نۀ بل څۀ ادبي سوغات دی ،مونږ هم يوه بې ادبي بولو او وخت دچاري لاخپله نيمګړتيا او تا دا منو".(۳)

د صنفي تعين په هکله ښاغلی ليکوال د تذبذب ښکار دی او د ې لړ کښې هيڅ کوټلې فيصله نۀ ده کړې البته د کتاب مترجم پروفېسر عبدالغني خان غنو دې ته د ناول نوم ورکړې دی او ليکلې دي :

"یہ کتاب پشتون تحریک کی ایک اہم باب کی دلچسپ تاریخ ہی . یہ صرف سیاسی اور تاریخی کتاب ہی نہیں بلکہ تحریر میں ادبی رنگ بھی نمایاں ہی۔روزمرہ اور محاوری کی تقاضوں کو کماحقہ ملحوظ رکھا گیاہی۔اور زبان وبیان کی چاشنی کا لطف بھی ہی۔کتاب کی خوبصورتی یہ ہی کہ تاریخی اور سیاسی حقائق کوناول کی قالب میں سمویاہی اور کچھ ایسی پیرائی ہیں،حالات اور سچی واقعات کابیان اور ساتھ ہی ساتھ سیاسی تجزیہ بیان کیا گیاہی۔کہ کہیں بھی احساس نہیں ہوتا کہ یہ ایک سیاسی اور تاریخی کتاب ہی ۔ بلکہ ادب اور ایک اچھی ناول کی تمام خصوصیات اس میں نظر آتی ہی۔"(۴)

پروفېسر عبدالغني خان غنو د اووم اکتوبر رزم صنفي تعين خو کړې دی ولې هغه خصوصيات ئې نۀ دي په ګوته کړي چې د يو ښۀ ناول دپاره ضروري او لازمي ګڼل کيږي. البته دهغۀ په تتبع کښې ښاغلي رشيد احمد په خپل کتاب"پښتو ناول سل کاله" کښې تفصيلي بحث کړې دی. او دکوټي داووم اکتوبر رزم " ئې د جنوبي پښتونخوا وړومبی ناول ګڼلی دی. دې نه مخکښې دښاغلي ناظر صادق وچه لښته چې په کال ۲۰۰۵ء کښې چاپ دی، ته د جنوبي پښتونخوا د وړومبي ناول اعزاز حاصل ؤ.خو ښاغلي رشيد احمد په خپله څېړنه کښې دا دعوه وکړه چې "وچه لښته" نه مخکې هم په جنوبي پښتونخوا کښې ناول ليکلی شوی دی چې دفيکشن محققينو ئې ذکر قدرې هم نۀ دی کړی. دې لړ کښې ښاغلی رشيد احمد وائي.

" د اووم اکتوبر رزم يو داسې ناول دی چې دپښتو ناول په تاريخ کښې ئې ذکر نۀ شته او چاد ناولونو په شمېر کښې نۀ دی راوستی . د دې په هکله ټول محقيقين خاموش دي. او ټول ليکوال دښاغلي صادق ناظر وچه لښته (۲۰۰۵) دسهېلي پښتونخوا وړومبی ناول ګڼي ولې داسې نۀ ده، وچه لښته د سهېلي پښتونخوا دويم ناول دی". (۵)

ر شيد احمد وړ اندي ليکي:

"دلته بايد دا ووايو چې دا تاريخي سمونه دي وشي چې د سهېلي پښتونخوا وړومبی طبعزاد پښتو ناول د اووم اکتوبر رزم دی چې محترم محمود خان اڅکزي دخپل قلمي نوم "پشتون زوی" سره په کال ۱۹۸۴-۱۹۸۵ کښې خور کړئ دی ". (۶)

ښاغلي رشيد احمد د دې کتاب په هکله په شپاړس صحفو مشتمل تحقيقي او تنقيدي ليک کړی دی او د ناول د ترکيبي اجزاء په رڼا کښې ئې د "اووم اکتوبر رزم " په هکله خپله تجزيه پېش کړې ده.

ښاغلي رشيد احمد دې څېړني او کره کتني سره موږ اتفاق نۀ شو کولی ځکه چې هغه فقط د مکالمه نګارۍ او واقعه نګارۍ پر بنياد دې ته ناول وئيلی دی. مکالمه نګاري او واقعه نګاري خو په نورو تخليقي صنفونو کښې هم خپل وجود ثابتولی شي. او بله خبره دا چې د ناول خپلې فني تقاضې وي. چې ناول نګار به ئې په هر حال خيال ساتي. دلته زۀ د ډاکټر سليم اختر يوه حواله وړاندې کوم.

"اگر ناول سی مراد کوئی بھی طویل کہانی، واقعات کا تانا بانا تھوڑی سی منظر نگاری ہو تو یقیناً اردو میں بی شمار ناول مل جاتی ہیں اگر ناول سی مراد ایسی تحریر ہی ۔ جو شعور زیست کی ساتھ شعار زیست بھی دی، جو کرداروں کی حوالی سی انسانی سائیکی کا لینڈ سکیپ منور کری، جو و توقعات کی محرک بننی والی عوامل کی نشان دہی کری اور سب سی بڑھ کر یہ کہ انسان اور سماج کا periscopic مطالعہ پیش کری اگر یہ خصوصیات ناول کی لوازم میں شامل ہیں۔ تو پھر ہماری ہاں بہترین ناولوں کی افسوسناک حد تک کمی ہی۔ ہماری ناولوں میں کہانی بھی ملتی ہی اور کردار بھی، مناظر بھی ہوتی ہیں اور جذباتی مکالمی بھی لیکن ان سب کی امتزاج سی وہ گیسٹالٹ نہیں بنتا جو قاری میں ترفع پیدا کرنی کا موجب بنتا ہی۔" (7)

ډاکټر سلیم اختر یواځې د ناول دپاره مکالمه نګاري او واقعه نګاري کافي نه ګڼي بلکې دې سره سره دیو ښۀ ناول تخلیق کولو په وخت د ټیلي سکوپک او periscopicویژن په امتزاج هم زور ورکوي . په دغه تناظر کښې نۀ خو رشید احمد د اووم اکټوبر رزم جاج اخیستی دی او نۀ ښاغلي لیکونکي د دغو توکو کوم خیال ساتلی دی.

او بل داچې د اووم اکټوبر رزم لیکونکی دې ته ناول نۀ دی وئیلی. د یوه ریښتونې پېښه ده چې ښاغلي لیکوال په کتابي شکل لوستونکو ته وړاندې کړې ده ، د دغې پېښې په هکله هغه موږ ته داسې معلوما ت راکوي.

"دا یوه ریښتونې قیصه ده. داسې ریښتونې چې د سلګونو انسانانو سره سره ئې خپله وخت او تاریخ هم هر وخت ګواهي ورکولی شي. ښائې چې د ادبي دنیا پوهان زموږ دا بې ادبي څکه وزغمي چې دا په ریښتیا بنا ده." (۸)

وړاندې لیکي :

"په اووم اکټوبر کال ۱۹۸۳ء دجنوبي غلامي پښتونخوا په پښتني ښار کښې پر بې وسله انسانانو د وخت جابرانو تش د دې دپاره ډیري ناترسه ګولۍ واوره ولې چې دې انسانانو د زور او جبر نۀ منلو ډېر پوخ او ټینګ عزم لاړۀ او نور انسانان ئې په دې خبرول غوښت، څۀ ویناوې به ئې کړې اود زړۀ زور ابستلو دپاره به ئې څۀ چیغې وهلې خوښکاري داسې چې د دوی دا نارې دمنصور چیغې وې چې نۀ په خوا جابر زغملې اونۀ ئې بیا زغملی شي. دوی خپلې چیغې اووهلې او جابرخپل زور ورسره وکړ . دوی خپله او جابر خپله تاریخي وظیفه پوره کړه. دا کله ، چېرې او څنګه پېښه وه او بیا څۀ وشو بس هم دغه خبره په دې پاڼو کښې لیکل شوې ده".(۹)

دافسانوي ادب خپل مخصوص لوازمات وي. د دغو مخصوصو لوازماتو او خصوصیاتو پر بنیاد دفیکشن نقادان د افسانوي ادب دمختلفو توکو صنفي تعین کوي. موږ که د" کوټې اووم اکټوبر رزم" صنفي تعین د دغو خصوصیاتو په رڼا کښې

کوو نو د فېکشن په چوکاټ کښې ذکر شوی اثر ځان له ځای نۀ شي پیدا کولی. وړومبې خبره خو دا ده چې په اووم اکتوبر رزم کښې کومه واقعه بیان شوې ده هغه خیالي نۀ ده بلکې حقیقي ده چې دیو روداد په شکل پېش شوې ده چې دفني حربونه هم عاري ده. دې ته ناول وئیل زما په خیال سرزوري ده او لوستونکي د ګمراهۍ سره مخ کول دي. ځکه چې دغه حقیقي واقعې ته هیڅ افسانوي رنګ نۀ دی ورکړی شوی او کومه حقیقي واقعه چې افسانوي رنګ ونۀ لري هغه دافسانوي ادب په تعریف پوره نۀ خیژي. په دې کښې چې کوم واقعا ت بیان شوي دي په هغو کښې هیڅ افسانویت نۀ شته بلکې ځینې برخې خو ئې یو صحافي پیش کړې شوې رپورټ ښکاري. یوه نمونه ئې تاسو هم وګورئ.

"د توبې محمد سلیم اکا چې دپارټۍ دېر زوړ ملګری دی او دپارټۍ په هر جلوس او جلسه کښې شامل وي په سربانډې په یو شي ویشتلی شوی دی. چرې یا د ګولۍ ټکړې ئې دسر په پوست کښې بندې دي. دپارټۍ ګوندي ډاکټرانو کتلی دی ډېر په زاوال نۀ دی، سر ئې پرله ګرځي، په پښتون اباد کښې په خپل کور کښې پروت دی درمان ئې روان دی....دویم ټپي ملګری علي محمد د ریګ اوسېدونکی بادیزی دی، دشپاړس اولسو کالو ځوان دی دسپینې تیرې او خوا جه عمران دملګرو سره جلوس ته راغلی و، په کاسي روډ باندې چیرې چې رمضان شهید شو دی هم په کینڼ لاس په ګولۍ ویشتلی شوی دی ګولۍ په کښې بنده ده. دملګرو ډاکټرانو داخیال دی چې هډ ئې نۀ دی مات...... د توبې ملګری شاعر بازمحمد دخېټې تر پسته غوښه ګولۍ وتلې ده دکینې خوا پسته غوښه ئې ورېرې کړې...... دا وخت دپښتونخوا پارټۍ اتۀ ځلوېښت غړي د ښارپه لویه ستې تانه کښې بند دي،دګوال منډۍ په پولیس تانه کښې حفیظ نومې پولیس اې،ایس ، ائي د ښو ډېرو دهمکیو ، سپکو او ښکنځلو پس پکار ښه ډېر و واهۀ ".(۱۰)

په اووم اکتوبر رزم کښې داسې نورې ډېرې نمونې هم شته چې د اخباري رپورټ بڼه لري خو د طوالت له وېرې ئې نۀ شم پېش کولی. اوس تاسو په خپله فېصله وکړئ چې

ایا په یو ناول کښې د داسې غیر متعلقه تفصیلاتو ګنجائش شته ؟ هم دغه وجه ده چې دپښتو ناول په هکله شوي تحقیق کښې د دې اثر یادونه نۀ ده شوې. ځکه دښاغلي رشید احمد دغه نیوکه هم بې ځایه ښکاري کومه چې هغۀ دپښتو ناول په محقیقینو کړې ده. هر کله چې ذکر شوی اثر دافسانوي ادب د دائرې نۀ بهر شو نو په فني او تېکنیکي لوازماتو ئې بحث هم غېر ضروري دی. البته دخپلې خبرې په تائید کښې د ستر نقاد او محقق پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم یوه حواله پېش کوم. ډاکټر اعظم اعظم د ناول تعریف په دې ټکو کوي.

"ناول هغه اوږدې قیصې ته وائي چې په نثر کښې لیک وي او هر څو که دا قیصې خیالي وي ولې دحقیقت ګمان پرې کېدلی شي". (۱۱)

ډاکټر اعظم اعظم وړاندې لیکي.

"پلاټ د ژوند واقعات په خپل سوچه او بالکل اصلي رنګ کښې کله هم نۀ وړاندې کوي ، خارجي حقیقت به دفیکشن په دنیا کښې خامخا لږ په بدل شکل کښې رامخکښې کیږي ولې بیا هم یو ښۀ پلاټ که بالکل حقیقت نۀ را اخلي نو دهغه شي خیال به ارومرو ساتي کوم ته چې افسانوي حقیقت وئیلی شي". (۱۲)

د ډاکټر اعظم اعظم دې حوالې نۀ پس دا خبره واضحه شوه چې په ناول کښې به قیصه ارومرو خیالي وي خو د اووم اکتوبر رزم دا خصوصیت نۀ لري. ځکه د رشید احمد دعویٰ هم غلطه ثابته شوه. د ښاغلي رشید احمد دا دعویٰ هم درسته نۀ ده چې د اووم اکتوبر رزم په هکله د پښتو ادبي تاریخ خاموش دی. حالانکې د اووم اکتوبر رزم یادونه زلمي هیواد مل صاحب هم کړې ده. دې نۀ علاوه ابراهیم عطائي صاحب پرې یوه تفصیلي مقاله هم لیکلې ده .که چیري ښاغلي رشید احمد د دغو لیکونو مطالعه کړې وه، نو د اووم اکتوبر رزم صنفي تعین کولو په وخت به ئې چیري هم تیندک نۀ وی خوړلی . ښاغلي ابراهیم عطائي صاحب د کوټې د اووم اکتوبر رزم په هکله لیکنه کړې

ده کومه چې دعلومو اکیډمۍ کابل له خوا چاپ شوې ده. د ابراهیم عطائي په لیکنه ښاغلي زلمي هیواد مل هم بحث کړی دی او لیکلي ئې دي چې.

"داستاني اوچرک د اتیا کلونو په جریان کښې؛ په پښتونخوا کښې د داستاني اوچرک نمونه هم باب شو ې ده ،ماته په خپله داسې داستاني اوچرکونو یوه نمونه معلومه ده چې د کوټې د اووم اکتوبر رزم نومیړي لیکوال ئې پښتون زوی معرفي شوی دی او دا اثر ۱۹۸۵ء کال په کوټه کښې چاپ شوی دی. زموږ مشر لیکوال استاد عطائي دکابل مجلې د ۱۳۶۵هـ ش کال په شپږمه ګڼه کښې په دې اثر یوه ښه تفسیري مقاله کښلې ده. او دا اثر ئې د داستاني اوچرک یوه ښه نمونه بللې ده".(۱۳)

دښاغلي زلمي هیواد مل خبره خو درسته ده ولې دلته دا وئیل به هم بې ځایه نۀ وي چي د اووم اکتوبر رزم نۀ علاوه په افغانستان کښې هم یو اوچرک د "بابه توره" په نوم ښاغلي ببرک احساس لیکلئ و. دې لړ کښې اریانا دائرة المعارف کښې لیکلي شوې دي چې:

"داوچرک اصطلاح د افغانستان په مطبوعاتو کښې د افغانستان د خلق ډیموکریټک ګوند تر واکمن کېدو وورسته راڅرګنده شوه او په افغانستان کښې د اوچرک لومړی لیکوال د ژورنالیزم دپوهنځي یو تن فارغ ببرک احساس و، چې د (بابه توره) په نامه یې دیوې ځانګړې مجموعې په توګه چاپ کړې وه او هغه د ۱۹۸۶م کال د فبروري د ۱۹ په ګڼه کښې د پخواني شوروي اتحاد چاپ پړاو دا ورځپاڼې په افغانستان کښې د اوچرک پیدا ینښت ترنامه لاندې یاد کړ". (۱۴)

ابراهیم عطائي صاحب په خپله لیکنه کښې د اووم اکتوبر رزم صنفي تعین کړی دی او دې ته یې د اوچرک نما داستان نو م ورکړی دی. د ابراهیم عطائي صاحب په لیکنه به وروستو بحث کولی شي خو وړومبی د اوچرک په هکله هم څه وئیل ضروري ګڼم ځکه چې یو خو په پښتو کښې د اوچرک نمونې د نشت برابر دي اوبله دا چې د اوچرک په خصوصیاتو هم د پښتو ادب عام قاري خو پرېږده چې ډېر اهم لیکوالان هم نۀ دي خبر.

اوچرک څۀ ته وائي ،د اوچرک خصوصیات څۀ دي دې لړ کښې په اریانا دائرة المعارف وړومبي ټوک کښې لیکلي شوي دي:

"اوچرک دلفظي جوړښت له مخې روسي کلمه ده دهغې معادل زموږ په ملي ژبو کښې چې په دقیقه توګه د اوچرک معنا افاده کړي نه شتۀ خو کېدلی شو چې د اوچرک په ځای د واقعي اتل حماسه تریو حده وه کاروو یعني دمفهوم له مخې هغه هم په تقریبي تو ګه د واقعي اتل حماسه ، واقعي داستان ، د واقعي اتل څېره د اوچرک دمفهوم افاده کونکي وي. اوچرک دحماسي ژانرونو یو ډول دی دهغو له نورو ډولونو لکه داستان ، رومان او نورو سره دا توپیر لري چې اوچرک واقعي پېښې او اشخاص انځوروي......... اوچرک دهغه انسان داستان دی چې کار او جنګ کوي او له نورو ژانرونو ئې یوازینی توپیر دا دی چې په جګړه ، وطن دوستۍ او حماسه پنځونه کښې ګرم زړونه او تودې مینې زیږ وي...... باید ټول مطالب د ماهیت له مخې اجتماعي وي او له سیاسي پلوه اغېزمن وړاندې شي او دمهمو اجتماعي پېښو حل کولوته ځانګړې شي".(۱۵)

د دغو وضاحتونو نۀ پس موږ داوئیلی شو چې ابراهیم عطائي صاحب د اوچرک په خصوصیاتو خبر لیکوال و. هغه چې د اووم اکتوبر رزم صنفي تعین کوي هم ئې له دغې زاوئې نه جاج اخلي او ناول نۀ ورته وائي بلکې په دې کښې د اوچرک خصوصیات لټوي او خپله تجزیه موږ سره داسې شریکوي.

"د لیکنې سبک ئې د ناول لیکنې سره سم نۀ دی خو په تصادفي توګه د اوچرک لیکنې سره دومره جوخت راغلی دی چې سړی خیال کوي لیکوال د اوچرک یوه نمونه وړاندې کوي".(۱۶)

ابرهیم عطائي صاحب وړاندې لیکي.

"په دغه اوچرک ډوله داستان کښې د بديعي ادبياتو د ناولونو په توګه يواځې د ماجره انځور نۀ وړاندې کيږي بلکې په ژور نالستهک شېوه د ماجراوو بيان ئې کله کله خبري بڼه غوره کړي نو زۀ اوچرک نما داستان ورته وائم".(١٧)

د استاد ابرهيم عطائي صاحب داخبره خو درسته ده چې د اووم اکتوبر رزم د اوچرک خصوصيات لري. ولې دې خبرې سره ئې اختلاف کېدی شي. چې اووم اکتوبر ر زم ئې د اوچرک نما داستان په نوم ياد کړی دی. د اوچرک سره د داستان لاحقه تړل زما په خيال محتاطه خبره نۀ ده. ځکه چې داستان خپل خصوصيات لري په داستان کښې يواځې مافوق الفطرت واقعات بيانولی شی او حال دا چې په اووم اکتوبر رزم کښې حقيقي واقعات بيان شوي دي چي نۀ پکښې دپېريانو او دېوانو ذکر شته نۀ پکښې د کوه قاف ښاپيرۍ په نظر راځي او نۀ د جادو او سحر فضا لري. د نور وضاحت دپاره دپروفېسر ډاکټر اعظم اعظم د کتاب نۀ يوه حواله پېش کوم چې د داستان په فن پوره رڼا اچوي.

"د تهذيب او تمدن د ودې سره قيصو هم ترقي وکړه او دساعت تېرۍ او غم غلطۍ په دې خوراکه کښې وخت په وخت دلچسپۍ او زړه راښکون نوې نوې مسالې ګډې شوې د قيصې وئيلو او اورېدلو بنيادي مقصد د دنيا د بکېړو او د ژوند دغمونو نۀ د څۀ ساعت دپاره تېښته وه. او د دې دپاره دپناه اخيستلو د ټولو نه موزون ځای دتصور وېړه دنيا ده، دخيال ورشوګانې دي،د تخيل د ښکلا ناليدلي جهانونه وو. د رومان رنګيني مانۍ وې. د کوه قاف د ښاپېريو ګرم ګرم سېلونه. د ترابان دېو،هېبتناکې او وئيرونکې څېرې د باشاهانو بنېدلي او غوړېدلي دربارونو د شهزادګانو او شهزادګو دمينې مثالي داستانونه،دشيرينۍ درانۀ شرطونه او دفرهاد کوهکني ،دمحبوبې په اوو کلاګانو کښې د ښائست پلوشې او دخون کار د اوو زامنو په وينو سرې ځوانۍ دا هر څۀ يو ځای شول نو د دې نه زموږ داستان فن جوړ شو".(١٨)

لکه څنګه چې وړاندې وئيلي شوي دي، چې د اووم اکتوبر رزم زياته برخه د اوچرک خصوصيات لري. خو کله کله د راپورتاژ رنګ هم پرې غالب شي. او ځينو ځايونو کښې

خو داسې ښکاري لکه يو صحافي چې ديوې واقعې رپورټنګ کوي چې هيڅ داخليت په کښې نۀ وي. د رپورتاژ او رپورټ دغه شوخو امتزاجي رنګونو سره کله چې ليکوال دتجسس فني حربه هم ملګرې کړي( کومه چې د افسانوي ادب خاصه ګڼلې شي). نو د اووم اکتوبر رزم صنفي تعين نور هم مشکل شی. پښتو ادب کښې دا يوه نوې تجربه ده چې ښاغلي ليکوال په غېر شعوري توګه کړې ده،ځکه چې نۀ خو ښاغلی ليکوال د اوچرک دصنف نه خبرو او نۀ ئې د افسانوي ادب او غير افسانوي تخليقي ادب غېر معمولي تجربه لرله. د ورکړې شويو حوالو نه پس موږ په دې نتيجه رسېدلي يو چې د کوټي اووم اکتوبر رزم د افسانوي ادب ( داستان ، ناول ، ناولټ ، ډرامه ، افسانه ) سره هيڅ تعلق نۀ لري. دغه اثر ځينو ځايونو کښې د رپورتاژ رنګ ضرور لري . ولې دغه رنګ تر اخره ښاغلي ليکوال برقرارنۀ دی ساتلی ،په دې بنياد دې ته رپورتاژ وئيل هم نۀ دی پکار. چونکې په دغه اثر کښې د نورو صنفونو په نسبت د اوچرک زيات خصوصيات په نظر راځي. لهذا د دغو خصوصياتو پر بنياد موږ دې ته داوچرک نما داستان په ځای د اوچرک يوه ابتدائي نمونه وئيلی شو. چې ښاغلي ليکوال په غير شعوري توګه تر سره کړې ده ." د کوټي داووم اکتوبر رزم "ته دا اعزاز هم حاصل دی چې دا دپښتو وړومبی اوچرک دی چې دې نه مخکښې په دې صنف چاهم طبع ازمائي نۀ ده کړې.

## حوالې

1. زوی ، پښتون، د کوټې اووم اکتوبر رزم ، پښتونخوا ادبي څانګه کوټه دسمبر ۱۹۸۵ء صفحه نمبر IIIتا V
2. هم دغه ، صفحه نمبر xxiv
3. هم دغه ، صفحه نۀ لري
4. اچکزی، محمود خان، معرکه 7اکتوبر مترجم عبدالغني غنو، گوشه ادب، جناح روڈ کوئٹه ص ۷
5. احمد رشید ، پښتو ناول ( سل کاله ) ، ضیاءسنزر پرنټرز پېښور ، ۲۰۱۵ء ص ۳۸۲
6. هم دغه ، ص ۳۸۲
7. اختر، سلیم، ڈاکٹر، داستان اور ناول تنقیدي مطالعه، سنگ میل پبلی کیشنز لاهور، ۱۹۹۱ء ص ۱۱۳
8. زوی ، پښتون ، د کوټې اووم اکتوبر رزم ، صفحه نمبر نۀ لري.

9. هم دغه صفحه نۀ لري
10.هم دغه صفحه ۱۲۰ ، ۱۲۱
11.اعظم ، محمد اعظم ، پښتو افسانه تحقيق او تنقيد ، عظيم پبلېشنگ هاوس پېښور ،جولائي ۱۹۷۶ء ص ۷۰
12.هم دغه ص ۸۲
13.هېوادمل ، زلمی، دپښتونخوا اوسني داستاني ادبيات مشموله،دپښتونخوا داستاني ادبيات، مرتبه محمد نعيم ازاد پښتو ادبي غورځنگ کوټه ۲۰۱۲ء، ص ۹۹
14.آريانا دائرة المعارف لومړی ټوک ، دافغانستان اسلامي جمهوريت دعلومو اکيډمی ، ۱۳۸۸ش، ص ۷۳۶
15.هم دغه ، ص ۷۳۵، ۷۳۶
16.عطائي ، ابراهيم ، دکوټي د اووم اکتوبر رزم مشموله کابل مجله ، شپږمه گڼه دعلومو اکيډمي، ۱۳۶۵ی هـ ش ص ۶۰
17.هم دغه ، ص ۶۱
18.اعظم ، محمد اعظم ، پښتو افسانه تحقيق او تنقيد ، ص ۲۱، ۲۲

## د میاں اللہ داد چشتي بابا د ژوند تنقيدي جائزه

## A CRITICAL STUDY OF THE LIFE OF MIAN ALLADAD CHISTI BABA

Darman Ali Khail*
Dr. Altaf Yousaf Zai†

* PhD. Scholar, Dept. of Pashto, University of Peshawar, Khyber PashtoonKhwa
† Assist. Prof. Hazarah University Mansehra, Khyber PashtoonKhwa